بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقــــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۵/ شعبان المعظم/۱۴۴۶ هـ، ق مطابق۲۶ / دلو/۱۴۰۳هـ، ش**

# د حق او باطل فرق کول او تل په حق باندې ثابت پاتې کيدل د واقعي مسلمان خصلت دی

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا مَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِيَ لَهُ . وَنَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَنَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ أَرْسَلَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا . أَرْسَلَهُ بَيْنَ يَدَيْ السَّاعَةِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُنِيرًا فَهَدَى بِهِ مِنْ الضَّلاَلَةِ وَبَصَّرَ بِهِ مِنْ الْعَمَى وَأَرْشَدَ بِهِ مِنْ الْغَيِّ وَفَتَحَ بِهِ أَعْيُنًا عُمْيًا وَآذَانًا صُمًّا وَقُلُوبًا غُلْفًا وَفَرَقَ بِهِ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ وَالْهُدَى وَالضَّلاَلِ وَالرَّشَادِ وَالْغَيِّ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْكُفَّارِ ، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: { وَإِذَا سَمِعُواْ مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَى أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُواْ مِنَ الْحَقِّ يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ} المائدة: (۸۳)

**پتمنو حاضرينو او درنو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

حق د باطل ضد دی او د حق او باطل ترمنځ جګړه د آدم عليه السلام او شيطان له وخت څخه پيل شوی ده او د قيامت د ورځې پورې به د حق او باطل ترمنځ جګړه دوام ومومي.

د حق او باطل فرق کول دمسلمان لوی مسئوليت دی او په دنيا او آخرت کې د کاميابۍ او نجات اساسي شرط دی.

د حق او باطل پيژندل او د حق او باطل ترمنځ فرق کول؛ ځکه ضروري دي چې الله جل جلاله قرآن کريم د حق او د باطل د فرق کولو او پيژندلو لپاره را ليږلی دی او رسولان او پيغمبران ددې لپاره را استول شوي ؤ، ترڅو خلکو ته حق بيان کړي او انسانان حق ته راوبلي.[شرح المشكاة للطيبي ۱۱ /۳٦۲۰]

د قرآن کريم له موضوعاتو څخه يو هم د حق او باطل فرق کول دي او حق له باطل څخه جدا کول دي او الله تعالی په قرآن کريم کې په بې شميره آيتونو کې د حق او باطل ذکر کړی دی؛ خلک يې حق ته دعوت کړي دي او له باطل څخه يې ويرولي دي او دباطل مذمت يې بيان کړی دی، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:( وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُون) البقرة:(۴۲)

ترجمه:-او مه ګډوئ حق له باطل سره( خپل دروغ له رښتيا سره) او (مه) پټوئ ! حق حال دا چې تاسې پوهيږئ(په دې خلط او پټولو سره).

الله تعالی فرمايلي دي:( الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ وَإِنَّ فَرِيقاً مِنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ(١٤٦) الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ فَلا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ) البقرة:(۱۴۷)

ترجمه:- هغه کسان چې ور کړی دی مونږ دوی ته کتاب؛ پیژني دوی هغه(یعنې محمد او اسلام) لکه چې دوی پیژني زامن خپل ، او په تحقیق چې یوه ډله له دوی څني خامخا پټوي حق (وصف د محمد) حال دا چې دوی پوهیږي (په حقانیت د اسلام او نبوت د محمد(صلی الله علیه وسلم).

په یو بل مبارک آیت کې راځي: (لَقَدْ جَاءَكَ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلاَ تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ) یونس: (٩٤)

ترجمه:- خامخا په تحقیق راغلی دی تاته حق له(طرفه د) رب ستا نومه کیږه ته له سره له شک راوړونکیو څخه.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي: (قَاتِلُوا الَّذِينَ لا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلا بِالْيَوْمِ الآخِرِ وَلا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ) التوبة: (٢٩)

ترجمه:- و جنګیږئ تاسې له هغو کسانو سره چې نه راوړي ایمان پر الله، او نه په ورځې آخرې باندې (ځکه چې په پاک محمد یې ایمان نه دی راوړی) او نه حرام ګڼي دوی هغه چې حرام کړي دی الله (په قرآن کې)او رسول د هغه(په حدیثونو کې) او نه قبلوي او دین حق.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صدیق رضي الله عنه به داسې دعاء کوله: (اللّهم أرنا الحق حقاً فنتبعه والباطل باطلاً فنجتنبه) شرح مذاهب أهل السنة ومعرفة شرائع الدين لابن شاهين(ص: ٣٦)، قوت القلوب (١ /١٤٢).

ژباړه:- ای الله!وښایه مونږ ته حق په ربښتیا سره حق ترڅو چې مونږ یې پیروي وکړو (او وښایه مونږ ته) باطل واقعي باطل ترڅو ځان ورڅخه وساتو.

بناءً په حق او باطل کې فرق کول لوی فضیلت دی؛ ځکه چې حق پیژندل او په حق باندې عمل کول او تل په حق باندې ثابت پاتې کیدل د واقعي مسلمان خصلت دی ،الله تعالی په حق باندې امر کړی دی او له باطل څخه یې منع کړی ده لکه چې الله تعالی فرمایلي دي چې هغه کسان تاوانیان نه دي چې په حق سره یو بل ته وصیت کوي. الله تعالی فرمایلي دي:(وَالْعَصْرِ (١) إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ (٢) إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ). العصر: (١-٣)

ترجمه:- قسم دی په عصر چې بېشکه انسان خامخا په زیان کې دی (په صرف کولو د عمر سره په فاني مطالبو کې).

مګر( خو زیانکاران نه دي) هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی ، و کړي یې دي ښه (عملونه)، او وصیت یې کړی وي یو بل ته په حقه سره چې ایمان دی، او وصیت یې کړی وي یو بل ته په صبر (په اطاعت او مصیبت او له معصیته).

**د حق او باطل تعریف:**

په قرآن کریم کې د حق اطلاق په ډیرو شیانو شوی دی او د باطل اطلاق هم په ډیرو معانیو شوی دی.

مګر د حق په لغت کې ثابت، درست، ریښتونی، او واجب ته وایي او په اصطلاح کې هغه حکم دی چې مطابق د واقع سره وي او د حق اطلاق په عقایدو، ادیانو او مذاهبو باندې هم کیږي او د حق ضد باطل دی.[كشاف اصطلاح الفنون للتهانوي ٤٥٢/١-٤٥٣] .

او باطل هغه څه دي چې صحت ورلره نه وي او د باطل ضد حق دی . [نزهة الأعين النواظر في علم الوجوه والنظائر ص: ١٩٥]

## د حق پیژندل ضروري دي:

په اوسني وخت کې چې د فتنو موجونه زیات دي او د نړۍ مسلمانان په ډول ډول ازمیښتونو سره لاس او ګریوان دي او نړۍ کې باطل د حق په شکل کې وړاندې کیږي او د باطل طرفداران زیات دي ؛ نو مسلمان ته د حق پیژندل ضروري دي .

د حق او باطل د فرق کولو لپاره دا ضروري ده چې حق وپیژندل شي. که چیرې مسلمان حق وپیژني نو باطل چې د حق ضد دی هغه به هم وپیژني او کله چې حق وپیژني ، په حق به عمل وکړي، په حق به فیصلې وکړي ، حق به نورو ته بیان کړي او د حق طرفداري به وکړي

، خو که چیرې حق ونه پیژني نو له باطل څخه جدا کول او په حق عمل کول او نورو ته یې بیانول بیا مشکل دی. په یو روایت کې راځي:
قال حذيفة بن اليمان ( ليأتين على الناس زمان يشتبه الحق والباطل).ذم الكلام وأهله للهروي(٤ /٢٨٥)
ژباړه:- حذیفه بن الیمان رضي الله عنه فرمایلي دي: خامخا به په خلکو داسې زمانه راشي چې حق به له باطل سره خلط شي( او تمیز به یې گران وي).
د حق پیژندل له دې امله ضروري دي چې مسلمان په باطل کې اخته نشي، د حق پیژندل ددې لپاره ضروري دي ترڅو د حق په تائید کې مسلمان ودریږي او د باطل مقابله وکړي، د حق پیژندل ځکه ضروري دي چې د حق ددښمنانو سره مقابله وکړي او د حق پرستو مرسته او کومک وکړي او په حق ثابت ودریږي.
که چیرې څوک حق وپیژني په دې سره به له باطل څخه ځان وساتي؛ ځکه د باطل څخه ځان ساتل ډیر ضروري دي. په یو روایت کې راځي: عن حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ يَقُولُ :«كَانَ النَّاسُ يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الْخَيْرِ وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ مَخَافَةَ أَنْ يُدْرِكَنِى». صحيح مسلم (٦/ ٢٠)
ژباړه:- د حذيفة اليمان رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې خلکو به د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د خیر پوښتنې کولې او ما به د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د شر په باره کې پوښتنې کولی ، ددې ویرې نه چې شر به ما ته ورسیږي.
د مسلمان دنده ده چې د حق او باطل ترمنځ فرق وکړي او حق له باطل څخه جدا کړي، ځکه الله تعالی انسان ته سلیم فطرت ورکړی دی چې په د سلیم فطرت په وسیله به د الله تعالی په قدرتونو کې فکر کوي او د حق په پیژندلو کې به هڅه کوي الله تعالی په انساني نفس کې ددې استعداد اچولی دی چې د حق او باطل ترمنځ فرق وکړي او حق قبول کړي او د انسانانو په طبیعت کې الله تعالی د حق سره محبت او د باطل سره نفرت اچولی دی. [جامع العلوم والحكم ص: ٢٥٣]
الله تعالی فرمایلي دي:(فِطْرَتَ اللهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ). الروم: (٣٠)
ترجمه:- لازم ونیسه دین د الله هغه چې پیدا کړي دي (الله) خلق په هغه (دین)، مه بدلوئ تاسو هغه دین چې الله خلق پر هغه پیدا کړي دي(چې شریک له الله سره پیدا کړئ).په یو حدیث شریف کې راځي: عن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ وَيُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ). صحيح البخاري ت (٣ /٣٤١)
ترجمه:- د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : هیڅ ماشوم نشته مگر هغه پیدا کیږي په اسلامي فطرت سره نو بیا مور او پلار د هغه ده لره یهودي کوي یا یې نصراني کوي یا یې مجوسي کوي لکه څرنگه چې زیږوي حیوان بچي روغ رمټ آیا تاسو په کې کوم عیب وینئ؟
ددې حدیث په شرح کې ابن الجوزي رحمه الله لیکلي دي: ددې حدیث څخه مراد دادی چې د حق تعالی پیژندل په نفسونو کې الله تعالی خلقتاً اېښي دي او بیایې د حق تعالی د پیژندلو لپاره دلائل درولي دي کله چې انساني فطرت له موانعو څخه خالي وي حق ورته ښکاره کیږي او ور باندې باور کوي.كشف المشكل من حديث الصحيحين (ص: ٩١٠)
له بلی خوا د حق او باطل ترمنځ فرق کول په هغو صفاتو سره ممکن دی چې د حق صفات بلل کیږي.
د حق او باطل ترمنځ فرق په لاندې خصوصیتونو سره کیږي:

**۱- د حق څخه تجاوز په باطل کې واقع کيدل دي.**

څوک چې د حق څخه تجاوز وکړي په باطل کې به واقع شي ؛ ځکه چې حق او باطل دواړه يو د بل ضددي چې نه جمع کيږي او ددوی ترمنځ بله مرتبه نشته. الله تعالی فرمايلي دي:(فَذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ فَأَنَّى تُصْرَفُونَ) يونس: (۳۲)

ترجمه:- نو دغه (موصوف په دغو صفاتو )الله رب ستاسې دی حق،نو څه شی دي وروسته له حقه مگر گمراهي، نو کوم خواته گرځولی شئ تاسې( له حقه، سره د قيام د برهان په حقانيت د اسلام).

**توضيح:** په پورتني مبارک آيت کې استفهام انکاري دی. يعنې نشته د حق څخه نور څه گمراهي ده او ددوی ترمنځ بله کومه مرتبه نشته.

امام ابوحيان اندلسي رحمه الله ددې آيت په تفسير کې وايي: ( فالحق والضلال لا واسطة بينهما ، إذ هما نقيضان ، فمن يخطىء الحق وقع في الضلال). تفسير البحر المحيط (۵ /۱۲۴)ژباړه: د حق او گمراهی دواړو ترمنځ بله واسطه نشته ؛ ځکه دواړه يو د بل ضد دي، پس څوک چې په حق کې خطاء شو ؛ نو په گمراهی کې واقع شو.

**۲- حق يوه لاره ده او سيده لاره ده او باطلې لارې زياتې دي.**

د حق صفت دادی چې حق به يو وي او حق تعدد نه قبلوي اگرچه دا يوه پراخه موضوع ده خو ددې لپاره چې د حق د تعدد څخه نن سبا باطل پرستان استفاده کوي، نو بايد په اړه يې يو څه ووايو. دمثال په توگه د نړۍ په ټولو اديانو کې يواځې يو دين حق دی چې هغه اسلام دی. الله تعالی فرمايلي دي:(وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلامِ دِيناً فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ).آل عمران: (۸۵)

ترجمه:- او هر څوک چې غواړي غير له اسلامه (چې توحيد او د الله احکامو ته انقياد دی)بل دين،نو له سره به ونه منل شي له ده نه

نن سبا ځينې تړونونه امضاء کيږي چې ورته (ابراهيمي تړونونه) ويل کيږي او وايې چې ټول دينونه حق دي ، د نن ورځې يهوديت، عيسويت... ټول ابراهيمي اديان دي او ټول حق دي، سره ددې نن سبا چې کوم يهوديت دی او يا عيسويت او نصرانيت دی داټول محرف او منسوخ اديان دي.

يواځې داسلام دين حق دی او نور ټول اديان باطل دي؛ ځکه چې داسلام سره په ټکر کې دي.نو حق يو دی او باطل زيات دي.

الله تعالی فرمايلي دي: (وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ)الأنعام: (۱۵۳)

**ترجمه:- او(حکم کړی دی الله چې) په تحقيق دغه ( د دې سورت ذکر شوي احکام)لاره زما ده برابره (جنت ته)،نو متابعت وکړئ تاسې د دغې(لارې)، او مه کوئ متابعت د(نورو کږو) لارو ؛ نو تار په تار به کړي دغه متابعت )تاسې له لارې(سمې) د الله نه(چې د وحيې اتباع او د برهان اقتفاء)، دا (اتباع د سمې لارې)حکم کړی دی (الله)تاسې ته په دې سره لپاره ددې چې ځان وساتئ تاسې(له گمراهی نه).**

په يو بل مبارک آيت کې راځي: (قَالَ هَذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ).الحجر: (۴۱)

ترجمه:- نو بيا وفرمايل(الله) دغه (اخلاص په عمل کې)لاره ده تر ما پورې برابره .

په پورتني آيت کې الله تعالی خپله لار په مفرده صيغې سره ذکر کړی ده او باطلې لارې يې د جمعې په صيغې سره ذکر کړي دي. نو معلومه شوه چې د الله تعالی حقه لار يوه ده او باطلې لارې ډيرې او زياتې دي.

په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَطَّ خَطًّا، وَخَطَّ خَطَّيْنِ عَنْ يَمِينِهِ، وَخَطَّ خَطَّيْنِ عَنْ يَسَارِهِ، ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ فِي الْخَطِّ الْأَوْسَطِ، فَقَالَ: «هَذَا سَبِيلُ اللَّهِ» ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: {وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ} [الأنعام: ۱۵۳] سنن ابن ماجه (۱ /۶)

ژباړه:- د جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره موجود ؤ، نبي عليه السلام يو خط وويستلو او دوه خطونه يې د هغه خط ښي خوا ته وويستل او دوه خطونه يې د هغه خط چپ خواته وويستل، بيايې خپل لاس مبارک

په هغه منځني خط باندې کيښود او داسې وفرمايل: دا دالله تعالی لار ده. بيايې دا آيت تلاوت کړ: {وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ}

ددې حديث په يو بل روايت کې راځي چې نبي عليه السلام وفرمايل: (ثم قال: «هذا سبيل الله مستقيماً»، قال: ثم خطّ عن يمينه وشماله، ثم قال: «هذه السُّبُل، وليَس منها سبيل إلا عليه شيطان يدعو إليه». مسند أحمد (٤ /٢٥٧)

ژباړه:- بيا نبي عليه السلام وفرمايل: داد الله تعالی سيده لاره ده .عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايې چې بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه خط ښي لاس ته او چپ لاس ته خط وويستلو بيا يې وفرمايل: دا (ډيرې) لارې دي او نشته ددې لارو څخه کومه لار مګر په هغې شيطان ولاړ وي او هغې لارې ته بلل کوي.

نو واقعي مسلمان هغه دی چې دحق سيده او واحده لار باندې ثابت اوسيږي او د ډيرو او ګډو وډو لارو څخه ځان وساتي او د حق په لار باندې ثابت پاتې شي.

**٣- حق هغه دی چې شريعت يې مصدر وي.**

يعنې حق د خلکو په ډيروالي سره نه دی ، حق په ډيرو دلائلو سره نه دی،حق هغه دی چې په شريعت کې حق وي، ولو که ټول خلک يې مخالف وي. کوم شی چې د شريعت سره برابر وي او د شريعت تقاضا او غوښتنه وي ، هغه حق دی او کوم شی چې شرعي اصل ونلري هغه حق نه دی، بلکې باطل دی او مسلمان ته په کار دي چې ځان ورڅخه وساتي.

کومه خبره چې د الهي احکامو او ارشاداتو سره په ټکر کې وي هغه باطله ده او د حق په ضد ده او په کار ده چې ځان ور څخه وساتل شي.

او باطل هغه ناوړه پديده ده چې له شريعت سره په ټکر کې وي او شرعي مأخذ نلري.

که چيرې کومه موضوع راپيښه شي بايد هغه موضوع په شريعت باندې وتلل شي که چيرې داسلامي شريعت موافق وه بايد عمل وربانديې وشي او که داسلامي شريعت مخالف وه بايد ډډه ور څخه وشي؛ ځکه زموږ لپاره معيار د حق قرآ کريم او نبوي سنت دي چې مجتهدينو شرح او توضيح کړي دي .الله تعالی فرمايلي دی: (وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ) الكهف: (٢٩)

ترجمه:- ووايه(ای محمده ! دوی ته، اسلام او قرآن) حق دی له رب ستاسې.

په يو بل مبارک آيت کې راځي: ( الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِنَ الْمُمْتَرِينَ) آل عمران: (٦٠)

ترجمه:- حق (هغه دی چې) راغلی دی له جانبه  د رب ستا( دعيسی په شان کې) نو مه کېږه له شک کوونکو څخه.

حق د خلکو په کثرت او يا قلت سره نه معلوميږي؛ بلکې په شريعت سره معلوميږي.

بناءً مسلمان ته په کار دي چې کومه موضوع او کار چې دشريعت سره برابر ؤ د هغه پيروي وکړي او عمل ور باندې وکړي او ثابت وربانديې پاتې شي.

**٤- حق  الهي تائيد لري.**

الله تعالی په هر وخت او زمان کې د حق تائيد کړی او د هغې نصرت او مرسته يې کړی ده او هغه يې کامياب کړی دی او خلک يې د مقابلې څخه عاجزه شوي دي لکه د انبياوو او رسولانو رسالت او نبوت چې يې په معجزو سره تائيد کړی دی او د أولياوو ولايت يې په کراماتو تائيد سره کړی دی. او باطل چې الله تعالی ته مبغوض دی او د الله تعالی په وړاندې مردود دی هيڅ ډول تائيد نلري.

که چيرې کومه موضوع او کار د الله تعالی له لورې تائيد شي ، بايد چې په هغه عمل وشي او واقعي مسلمان ورته غاړه کيږدي او وربانديې ثابت پاتې شي. الله تعالی فرمايلي دي: (وَيُحِقُّ اللَّهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ) يونس:(٨٢)

ترجمه:- او (بيا ژر) ربښتيا کوي حق الله حقه خبره په کلماتو(حکمونو ) خپلو سره.

په يو بل مبارک آيت کې راځي: (وَيُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكَافِرِينَ (٧) لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ)الانفال: (٨) ترجمه:او اراده لري الله ددې چې ښکاره ثابت کړي رښتيا په خبرو خپلو سره،او پرې کړي بېخ د کافرانو لپاره د دې چې ظاهر غالب کړي حق(دين د اسلام)، او (لپاره د دې چې) ظاهر کړي باطلان د باطل(کفر) ، اگر که بده مني (دا خبره) مجرمان(کافران او پرې خپه کيږي).

په يو بل مبارک آيت کې راځي:( كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ). البقرة:(٢١٣)

ترجمه:- وو ټول خلک (په ابتدا کې ) ټولی يو په يوه حق دين (بيا ځنې کافران او ځنې مسلمانان پاتې شول) پس وليږل الله انبياء زيري ورکونکي( مؤمنانو ته په نعيم سره) او وېرونکي (کافرانو ته په جحيم سره)، او راويې لېږه له دوی سره کتاب(بيانوونکی ددين) په حق سره.

الهي معجزې او دکراماتو صادريدل د حق د تائيد برخه ده.لکه د موسی عليه السلام امسا، د صالح عليه السلام اوښه، د نبي عليه السلام قرآن کريم چې ټول عرب يې د مقابلې څخه عاجزه شو.الله تعالی فرمايلي دي: (قَدْ جَاءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ) الأعراف: (٧٣)

ترجمه:- په تحقيق راغلی ده تاسې ته ښکاره معجزه له (لوري د )رب ستاسې.

**٥- حق هغه دی چې شخړې له منځه وړي.**

**حق هغه وي چې شخړې ختموي او اختلافاتوته د پای ټکې ږدي . د متنازغو جوانبو په منځ کې سوله او ارامي رامنځ ته کوي.**

**ځيني وخت د خلکو ترمنځ په دنيوي کارونو کې اختلاف رامنځ کيږي حق هغه دی چې داسې اختلافات له منځه يوسي.الله تعالی فرمايلي دي: (رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ). الاعراف:(٨٩)**

**ترجمه:- ای ربه زمونږه ! فيصله وکړه په مينځ زمونږ او په مينځ د قوم زمونږ کې په حقه سره، او هم دا ته يې غوره بهتر د فيصله کوونکو.**

**حق هغه دی چې غميزې ختمې کړي او باطل بيا هغه دی چې شخړې، اختلافات، خپگانونه او زړه بداوی رامنځ ته کوي او تشنج ته لمن وهي.**

**٦- حق تل قوي او غالبه وي او باطل تل ضعيفه او کمزوری وي.**

**د حق صفت دادی چې حق به تل قوي وي او غلبه به وي او باطل به کمزوری او مغلوبه به وي.**

**الله تعالی فرمايلي دي: (بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ). الأنبياء: (١٨)**

**ترجمه:- بلکه ويشتل کوو مونږ په حق سره په باطل باندې بيا (دغه حق) سر ماتوي دهغه (باطل)او محو کوي يې.**

**په يو بل مبارک آيت کې الله تعالی فرمايلي دي: {وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقاً} الاسراء:(٨١)**

**ترجمه:- او ووايه (ای محمده! دوی ته کله چې ببرته ننوتې مکې ته فاتحاً ): راغی حق (اسلام) او په تېښته ورک شو باطل (کفر او شرک)، بېشکه باطل دی ورک کيدونکی (بې ثباته).**

**همدارنگه الله تعالی اهل حق ثابت او قائم لري او هغوی ته په دښمن غلبه ورکوي.الله تعالی فرمايلي دي:(يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا) ابراهيم:( ٢٧)**

**ترجمه:- مضبوطوی الله هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی .**

**په يو بل آيت کې الله تعالی فرمايي: (كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً).البقرة: (٢٤٩)**

**ترجمه:- ډېر (کرته) له لږو ډلو (د مؤمنانو )غلبه کړې وه (دغې لږې مؤمنې ډلې) په ډلې ډېرې.**

په يو حديث شريف کې راځي: عن جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « لاَ تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِى يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ». صحيح مسلم (١ /٩٥)

ژباړه:- د جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ما درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې داسې يې وفرمايل:- هميشه به وي يوه ډله زما دامت څخه چې جګړه (جهاد) به کوي د حق لپاره په داسې حال کې چې غالبه به وي په دښمن باندې تر قيامت پورې.

دا غلبه به د وسلو او اسبابو په بنا نه وي بلکې د حق په وجه به وي.

**٧- حق خير دی او باطل شر دی.**

خير او نيکي د حق سره لازم دي او خير له حق څخه نشي جدا کيدلی بلکې حق د خير څخه عبارت دی او که چيرې کوم ځای کې د حق په نوم جريان موجود ؤ او خير په کې نه ؤ ، نو هغه بيا دحق جريان نه دی . او باطل پوره شر دی او دشر څخه عبارت دی . که څوک شر کوي او د حق نوم ورباندې ږدي ، نو دا په خلکو حق او باطل ګډوډول دي.

حق امانت دی، عدالت دی، نصيحت په خير سره دی او په نيکۍ امر کول دي. لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: (إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ) النحل :( ٩٠)

ترجمه:- بېشکه الله امر (حکم) کوي په عدل (انصاف کولو)سره، او په احسان( نېکی کولو) سره، او په ورکړې سره خاوندانو د خپلوۍ ته، او منع کوي له قبيحه وو کارونو څخه، او له بدو کارونو او له سر کښۍ څخه .

**٨- حق هغه دی چې د مسلمانانو لوی جماعت په هغې ولاړ وي.**

حق هغه دی چې د مسلمانانو لوی جماعت په هغې ولاړ وي او ورباندې راټول وي، ځکه د مسلمانانو را جمع کيدل په يوکار باندې دادذې دليل دی چې دا کړنه حقه ده ، ځکه چې الله تعالی د نبي عليه السلام امت ددې څخه ساتلی دی چې په باطل او ګناه باندې راټول شي.

په حديث شريف کې راځي: عن أَنَس بْن مَالِكٍ يَقُول:ُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« إِنَّ أُمَّتِي لَا تَجْتَمِعُ عَلَى ضَلَالَةٍ».سنن ابن ماجه (٢ /١٣٠٣)

ژباړه:- د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ما درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: بيشکه زما امت نه جمع کيږي په ګمراهۍ باندې.

## تل په حق باندې ثابت پاتې کيدل د واقعي مسلمان خصلت دی:

په حق باندې د ثابت پاتې کيدونکي مثال لکه د هغې شمعې دی چې په توره شپه کې لګيدلې وي او تورتم يې رڼا کړی وي او هيڅ تغير او تبديل په کې نه راځي اګر که حالات هر څومره تغير ومومي.

څه ښه فرمايي عبدالرحمن بابا:

لکه ونه مستقيم په خپل مکان يم******************** که خزان را باندې راشي او يا بهار.

په حق باندې ثابت پاتې کيدل د حق پرستو خلکو لوی خصلت دی او په حق باندې ثابت پاتې کيدل د هر مؤمن مطلوب دی او دهر دعوت

گر ارمان دی، په ځانګړي ډول په داسې زمانه کې چې ازمېښتونه او د قسماقسم فتنو دوران دی او باطل ګمراه کوونکې وسائل په کارونو شپه او ورځ بوخت دي.

په حق او مستقيمه لار باندې ثابت پاتې کېدل او د باطل له انواعو او ډولونو څخه ځان ساتل د واقعي مسلمان د هوښيارۍ او ځيرکتيا او کلک هوډ ځرګندونه کوي. په حق باندې د زړه ثابت پاتې کېدل دالله تعالی لوی فضل او رحمت دی.

په حق باندې ثابت پاتې کېدل خورا پراخه او مهم مطلب دی ؛ خو مونږ به په حق باندې د ثابت پاتې کېدو په اړه یو څه ووایو.

په قرآن کريم کې څو ځایه د ثبات په اړه یادونه شوی ده او الله تعالی مؤمنانو ته امر کړی دی چې ددښمن په مقابل کې د حق ددفاع لپاره ثابت اوسئ او شاتګ دې نه کوي او نه دې میدان دښمن ته پرېږدي ځکه ددوی په ثبات کې کامیابي ، برلاسی او فلاح نغښتې ده. الله تعالی فرمايلي دي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ) الانفال:(۴۵)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یې را وړی دی (یعنې ایی مؤمنانو!) کله چې مخامخ شئ کوم فوځ (د دښمن) سره (چې جنګ در سره کوي) نو ثابت قدم اوسئ تاسې (او مه ترې تښتئ ) او یادوئ الله ډېر (په خوله او زړه) ښايي چې تاسې په مراد ورسېږئ (په بري سره پر دښمن د ذکر په برکت).

الله تعالی فرمايي که چیرې تاسې د الله تعالی( ددين) مرسته وکړئ الله تعالی به په عوض کې ستاسې مرسته وکړي او ستاسې قدمونه په ثابت او محکم کړي.( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ) محمد:(۷)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی(یعنی ای مؤمنانو) که مدد ګاری وکړئ تاسې له (دين د الله ، او رسول د)الله سره؛ نو مدد به وکړي (الله) له تاسې سره (په غلبه پر دښمن)،او ثابت به کړي قدمونه ستاسې (په ځای د جنګ).

الله تعالی فرمايي چې ای پیغمبره! زه تاته د تیرو امتونو او پیغمبرانو واقعات ځکه بیانوم ترڅو ستا زړه ته ثبات ور په برخه شي.( وَكُلًّا نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ وَجَاءَكَ فِي هَذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ) هود:(۱۲۰)

ترجمه:- او دا ټول اخبار لولو مونږ پر تا(ای رسول الله) له احوالو د تېرو رسولانو هغه چې کلکوو قوي مطمئن کوو مونږ په هغو سره زړه ستا (په تزييد د يقين سره ) او راغلی دي تاته په دغه اخبارونو کې حق او موعظه (پند) او یادونه لپاره د مؤمنانو.

په حق باندې د ثابت پاتې کیدو یو مثال د ساحرانو دی چې هرکله فرعون دوی داسې تهدید کړل:(فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَى) طه:( ۷۱)

ترجمه:- نو اوس به پرې کړم زه خامخا لاسونه د تاسې، او پښې د تاسې تېر او ببر(یعنی ښی لاس او کینه پښه یا کیڼ لاس او یا ښی پښه) او خامخا ځوړند به کړم هر مرو تاسې په تنو د خرماوو کې، څو ستاسې د حال د ليدلو څخه ټولو ته پند او عبرت حاصل شي، او خامخا معلوم به کړئ تاسې هرو مرو چې کوم یو له مونږ نه ډیر سخت دی له جهته د عذاب ، او ډیر پاتې کېدونکې دی .

نو دوی ورته داسې ځواب ورکړ:( قَالُوا لَنْ نُؤْثِرَكَ عَلَى مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا).طه:( ۷۱-۷۲)

ترجمه:- وويل (کوډګرانو ) چې له سره به غوره نه کړو تا په هغه چې راغلی دی مونږ ته له ښکاره وو معجزو، او له هغه (الله) چې پیدا کړي یې یو مونږه، پس وکړه ته هغه کار چې ته یې کوونکی یې، بېشکه همدا خبره ده چې حکم به ورکړې ته په دې ژوندون لږ خسيس (په قتل او نورو تعزيراتو).

همدارنګه که مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت په دقت سره ولولو ؛ نو وبه وینو چې د هغه صلی الله علیه وسلم سیرت په حق باندې د ثابت پاتې کیدو د بې شمیره مثالونو څخه ډک دی.

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**